# پۀ قرآنِ کريم باندي د څان پوهه کولو پۀ باره کښي حُکمونه

**(1)**:پۀ قرآنِ کريم باندي اجمالي ايمان راوړل فرضِ عين دے، [1] او پۀ دي باندي تفصيلي ايمان لرل فرضِ کفايه دي- [2] **اجمالي ايمان څۀ ته وئيلے شي**: قرآنِ کريم د **اللّٰه** پاک کلام منل او څۀ چي پۀ دي کښي موجود دي هغه حق او رښتيا منل د يو حرف يا حرکت (زبر، زير، پيش) نه هم اِنکار نۀ کول اجمالي اِيمان دے- [3] **تفصيلي ايمان څۀ ته وئيلے شي**: پۀ قرآنِ کريم کښي چي څۀ دي پۀ هغي باندي څان د تفصيل سره خبرولو ته **تفصيلي ايمان** وئيلے شي يعني پۀ دي کښي موجود حُکمونه (يعني د کومو کارونو د کولو حکم چي راکړے شوے دے)، مَنهِيات (يعني د کومو کارونو نه چي منع فرمائيلے شوي ده) د دي د آيتونو د معني او مفهوم نه څان خبرول **تفصيلي ايمان** دے،او دا فرض کفايه دے که څه خلقو حاصل کړو نو ټول به برئُ الذمه شي - [4]

## قرآنِ کريم د پوهيدلو سره د لوستلو فائدې

❁ **د قرآنِ کريم پۀ يو آيت باندي د څان پوهه کولو سره لوستل** د 100 رکعتونو نـمونځ کولو نه افضل دے [5] ❁ **د قرآن کريم يو آيت سره د پوهې لوستل**، بغير د پوهې نه د ټول قرآن لوستلو نه افضل دے[6] **قرآنِ کريم د پوهې سره لوستونکو** باندي سکون او اطمينان نازليږي ❁ **قرآنِ کريم د پوهې سره لوستونکو** نه رحمت راچاپيره کيږي ❁ **قرآنِ کريم د پوهې سره لوستونکو** نه فرښتے راچاپيره کيږي ❁ اللّٰه پاک **قرآنِ کريم د پوهې سره**

---

1 ...فتاوی شارح بخاری، جلد:1، صفحه:632۔

2 ...تفسير نعيمی، پاره:1، سورة البقره، تحت الآية:4، جلد:1، صفحه:143، ملخصًا۔

3 ...فتاویٰ اہلسنت، فتوی نمبر: WAT4321 ۔

4 ...وقار الفتاوی، جلد:2، صفحه:57، ماخوذاً۔

5 ...سنن ابن ماجه، کتاب السنه، باب فضل تعلم القرآن، صفحه:48، حديث: 219، بتغير قليل ۔

6 ...احياء العلوم، جلد:4، صفحه:521۔

لوستونکو ذِکر په فرښتو کښې فرمائي۔ (1) ❁ قرآنِ کريم سره د پوهې لوستل د عِلم حاصلولو ډېره لويه ذريعه ده۔ او ❁ عِلمِ دِين حاصلول دُنيا او څهٔ چې په دې کښې دي د هٔغه ټولو نه بهتر دي ❁ عِلمِ دين حاصلول د تيرو ګناهونو کفاره ده (2) ❁ څوک چې د عِلم حاصلولو د پاره ځي د هغهٔ د پاره د جَنَّت لاره اسانولے شي ❁ لږ عِلم حاصلول د ډېر عبادت کولو نه افضل دي۔ (3)

## د قرآنِ کريم نه د لرې کيدو نقصانات

❁ د قرآنِ کريم نه لرې کيدل د ډېر لوئي فضل نه د محرومۍ سبب دے ❁ د قرآنِ کريم نه مخ اړوونکي به د قيامت په ورځ راندهٔ راپاڅولے شي۔ (4) ❁ کوم زړهٔ چې په قرآن باندې معمور نهٔ وي، شيطان هغه خپل ځائے جوړوي (په حديثِ پاک کښې دي: په کوم زړهٔ کښې چې قرآن نهٔ وي، هغه د شاړ کور په شان دے۔ (5)) ❁ د قرآنِ کريم نه لرې والے اِيمان کمزورے کوي ❁ د قرآنِ کريم نه لرې والے د تنزلۍ او زوال سبب دے۔

## په قرآنِ کريم باندې د ځان پوهه کولو طريقې

❁ د سحر د نمونځ نه پس د تفسير اوريدو او بيانولو په حلقو کښې شرکت کوئ!په هغې کښې د دريو آيتونو د ترجمې او تفسير درس ورکولے شي ❁ قرآنِ کريم د پوهيدو سره د لوستلو او د عِلمِ دِين د حاصلولو فضيلتونه او فائدې مخې ته ساتئ ❁ تفسير صراط الجنان، تفسير تعليم القرآن، خزائن العرفان لولئ ❁ په درسِ نظامي کښې داخله واخلئ ❁ مدني چينل ګورئ په مدني چينل باندې په قرآنِ کريم باندې د پوهه کيدو په باره کښې

---

[1]… مسلم، کتاب العلم، باب اجتماع علی تلاوۃ القرآن، صفحہ:1039، حدیث:2699، ملخصًا۔

[2]… مشکاۃ المصابیح، کتاب العلم، فصل الثانی، جلد:1، صفحہ:23،24، حدیث:221۔

[3]… مشکاۃ المصابیح، کتاب العلم، فصل الثانی، جلد:1، صفحہ:68، حدیث:221، ملخصًا۔

[4]… تفسیر صراط الجنان، پارہ:16، سورۃ طٰہٰ، تحت الآیۃ 124، جلد:6، صفحہ:261، ملخصاً۔

[5]… سنن ترمذی، کتاب فضائل، باب:18، صفحہ:677، حدیث:2913۔

